# MENA د سرپرست



مور ستاسو حالت د MENA په توګه حساب کړی دی، یعنی د قانوني سن لاندي یو بې کسه ماشوم په

## » MENA « څه معنی لري؟

پدې معنی چې:

- تاسو د 18 کالو څخه کم عمر لرئ
- تاسو د بلجیم تابعیت نلرئ
- ستاسو مور او پلار تاسو سره په بلجیم کې نه دي
- تاسو په بلجیم کې د اوسیدو قانوني جواز نلرئ

په بلجیم کې، بې کسه بهرني کوچنیان د **سرپرست** درلودلو مستحق دي





## مګر ... یو سرپرست څه کوي؟

یو سرپرست هغه کس دی زمونږ لخوا ستاسو د ملاتړ لپاره ټاکل کیږي او په بلجیم کې ستاسو په ورځني ژوند کې ستاسو سره مرسته کوي

هغه ستاسو قانوني استازی ده: د دې معنی دا ده چې هغه / تاسو سره په بیلجیم کې د ژوند کولو لپاره ټول هغه ګرنلارو سره چې تاسو ورته اړتیا لرئ مرسته کوي. د بیلګې په توګه، که تاسو د پناه غوښتنه وکړئ یا په بلجیم کې د اوسیدو لپاره عریضه وکړئ، هغه به هلته تاسو سره مرستي لپاره شتون ولري او ددې لړۍ په اوږدو کې به ستاسو سره مرسته وکړي

یو سرپرست نور کارونه هم کوي. دلته یو څو بیلګې شته:

- هغه ډیری وختونه تاسو سره لیدنه کوي
- هغه تاسو ته د چاروالو لخوا ترسره شوي پریکړې تشریح کوي
- هغه ستاسو لپاره وریا وکیل لټوي؛هغه ګوري چې



تاسو په خپل استوګنځي کې د هوساینې احساس کوئ او، که چیرې اړتیا وي، تاسو سره د مناسب هستوګنې په موندلو کې مرسته کوي

- هغه تاسو په ښوونځي کې راجستر کوي او ډاډ ترلاسه کوي چې هرڅه په ښوونځي کې ښه پرمخ ځي
- که تاسو کومه طبي ستونزه لرئ، هغه ډاډ ترلاسه کوي چې تاسو ټول هغه پاملرنه ترلاسه کړئ چې تاسو ورته اړتیا لرئ
- هغه ستاسو پیسې ستاسو سره په مشوره اداره کوي
- کله چې شیان سم نه وي، هغه ستاسو ستونزې ته غوږ نیسي
- هغه ستاسو نظر او باورونو ته درناوی لري
- هغه تاسو سره ستاسو د راتلونکي په اړه خبرې کوي
- که تاسو غواړئ، هغه به ستاسو سره د مور او پلار په لټه کې مرسته وکړي

که تاسو خپل د سرپرست د دندو په اړه کومه پوښتنه لرئ، نو تاسو کولی شئ د هغه/ هغې سره خبرې وکړئ

## مور سره څنګه اړیکه ونیسئ؟

تاسو کولی شئ له مور سره پدې تلیفون شمیره ۷/۲٤ اړیکه ونیسئ

📞 **078/15.43.24**

تاسو کولی شئ پدې اړه بریښنالیک هم واستوئ

✉ **tutelles@just.fgov.be**

که تاسو له مور سره د اړیکې لپاره مرستې ته اړتیا لرئ، تاسو کولی شئ د خپل استوګنې په مرکز یا خپل وکیل کې له خپل ټولنیز کارکوونکي څخه وغواړئ

FEDERAL PUBLIC SERVICE JUSTICE

Co-funded by the European Union



## تاسو به تر څومره مودې پورې سرپرست ولرئ؟

ستاسو سرپرست به تر هغه وخته پورې ستاسو ملاتړ وکړي ترخو چې تاسو 18 کلن کیږئ. کله چې تاسو 18 کلن شئ، تاسو خپلواکه کیږئ

### دا څه معنا لري؟

دا پدې مانا ده چې تاسو باید خان ته پاملرنه وکړئ. سرپرست به نور ستاسو لپاره د پریکړې کولو توان ونلري. مګر اندیښنه مه کوئ، ستاسو سرپرست به تاسو سره ستاسو د 18 کلیزې لمانځنې لپاره چمتووالی کې مرسته وکړي: هغه به تاسو ته مشوره درکړي او هغه څه به تشریح کړي چې تاسو ورته اړتیا لرئ

په هرصورت، دا امکان لري چې ستاسو د سرپرست کار ممکن د 18 کلن کیدو دمخه ودریږي: که ستاسو والدین بلجیم ته راشي، یا که تاسو بلجیم پریږدئ. په داسې حالتونو کې، مور به تاسو ته یو لیک واستوو ترخو تاسوته ووایو چې تاسو نور سرپرست نلرئ. سرپرست به تاسو سره پدې اړه خبرې وکړي



## څه به پیښ شي که تاسو د خپل سرپرست سره ستونزه ولرئ؟

سرپرست باید تاسو ته غوږ ونیسي او ستاسو لپاره شتون ولري. هڅه وکړئ د هغه/ هغې سره د هغه څه په اړه وغږیږئ چې ستونزه څه ده

### څه که دا کار ونکړي؟

- سره اړیکه ونیسئ؛ مور کولی شو د ستونزې حل لپاره هڅه وکړو
- تاسو کولی شئ د سولې د عدالت ته هم لاړ شئ. هغه ددې لپاره شتون لري ترخو ستاسو او ستاسو سرپرست ترمنځ ستونزې حل کړي. تاسو کولی شئ له مور څخه د نورو معلوماتو لپاره غوښتنه وکړئ یا د خپل د هستوګنې په مرکز کې ټولنیز کارکوونکي څخه وغواړئ

